په مؤمنانو کې تر ټولو د کامل ایمان لرونکي هغه دي چې ښه اخلاق ولري او په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې له خپلو مېرمنو سره ښه وي

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "په مؤمنانو کې تر ټولو د کامل ایمان لرونکي هغه دي چې ښه اخلاق ولري او په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې له خپلو مېرمنو سره ښه وي".

[حسن] [ابو داود، الترمذي، او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د ایمان په لحاظ تر ټولو کامل انسان هغه دی چې ښه اخلاق ولري او دا کار په ورین تندي، نیکې کولو، ښو خبرو او له نورو څخه په ضرر لرې کولو سره کیږي. او تر ټولو غوره مؤمن هغه دی چې د خپلو مېرمنو لپاره غوره وي، لکه د هغه مېرمن، لونې، خویندې او خپلواني. ځکه چې هغوی د نورو په پرتله زیات حق لري چې ښه سلوک ورسره وشي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5792